مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکواله: لویسه بیانخیله
ژباړن: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ
۲۰۲۴/۰۳/۰۶

# د پښتون ژغورنې غورځنګ
# د عدالت او بشري حقونو لپاره یوه چیغه

سرچینه: د ساندې ګارډین ویبپاڼه

د پښتون ژغورنې غورځنګ (پې ټې ایم) په پاکستان کې د پښتنو په وړاندې د لسیزو راهیسې د دولت له خوا د تمویل شوي ظلم، جبر، شکنجې او ترهګرۍ ته د غبرګون په توګه راڅرګند شوي دی.

د پاکستاني پوځ او استخباراتي سازمان اې ایس اې د پراخ شتون سره سره، پې ټې ایم په پوره زړورتیا سره په پښتنو باندې د پراخو ظلمونو او جنایتونو ننګه کړې ده، د مقاومت وړتیا، د پیوستون او عدم تشدد لارې ته د ژمنیتا تاریخ یې په ډاګه کړي دی.

جیوپولیټکي استحصال:
د پښتنو سیمې د دوو لویو قوتونو (جیو پولیټکلي) جګړې په ډګر بدلې شوي دي. د پاکستان پوځ او اې ایس اې د خپلو ستراتیجکو ګټو لپاره د یوې وسېلې په توګه کاروي. پې ټې ایم د پښتنو پر خاوره د کیدونکي استعمار او استثمار څخه پرده پورته کړې ده، پې ټې ایم یو تاریخ په ډاګه کوي، چې د دولت له خوا تمویل کیدونکي ټروریستي فعالیتونو، غیر قضایي وژنو، او د جیو پولیټک ګټو ترلاسه کولو په موخه په توکمېزه تحرکاتو کې لاسوهنې په نښه کوي.


لویسه بیانخیله

**د پې ټې ایم لپاره نړیوال ملاتړ:**
د سخت زور او جبر کارولو سربیره پې ټې ایم پر نړیوال کچ د پاموړ ملاتړ ترلاسه کړي دی. په ځانګړي توګه د پښتنو او بلوڅو لړکیو له لورې کوم چې د پاکستان د دولتي ترهګرۍ ظلمونو اغېزې له نږدې تجربه کړي یا لمس کړي دي.
د پې ټې ایم سوله ییزو لاریونونو او د ټولنیزو رسنیو کمپاینونو د پاکستاني ډیپلوماتانو له خوا روایتي پروپاګنډې یې تر پوښتنې لاندې راوستي او ننګولي دي. پې ټې ایم د پاکستاني دولت اصلي څیره یې بربنده کړي، داسي ادعا کیږي، چې د ټاکل شویو سیاسي مشرانو پر ځای د پوځي جنرالانو له لوري اداره کیږي.

**ننګونکی دروغجن روایتونه:**
د پې ټې ایم نړیوال تحریک څخه مخکې اکثراً پښتانه د مذهبې افراطیانو او ترهګرو په توګه په غلط توګه معرفي کیدل. خو پې ټې ایم په پرله پسې توګه د دغو درواغجنو روایتونو مقابله کړې ده، څو د پښتنو مبارزو، ویاړلي کولتور، تاریخ او تعلیم، برابرۍ او سولې لپاره د روانې مبارزې یو مستند انځور وړاندې کړي.
غورځنګ د مذهبې سختدریځې په ردولو او په سیاسي ارمانونو یا نظریاتو باندې ټینګار کوي، دا د هغې انځور سره په تضاد واقع کیږي، کوم چې د پاکستاني سیاستوالو او پوځ له لورې وړاندې کیږي.

**د بشري حقونو سرغړونې او د مجازاتو څخه معافیت:**
په پاکستان کې پښتانه له دولتي تروریزم، د بشري حقونو د سرغړونو او له اقتصادي پلوه له محرومیت سره مخامخ دي. پې ټې ایم د پښتنو ناوړه بد حالت د دوېمې درجې اتباعو په توګه په ګوته کوي، چې د سیاسي حقونو نشتوالی او پر خپلو طبیعي زېرمو باندې کنټرول نه لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دا غورځنګ د مجازاتو څخه مصونیت یا معافیت ننګوي، چې د کومو کسانو له لوري د جبری تري تم کیدو، اختطافونو، شکنجو او وژنو کي لاس لري او مسوول دي. همداراز د ,, ترهګري ضد جګړي ,, تر نامه لاندی د جرمونو په پټولو کي د حکومت رول ته پام اړولي دی.

**نړیوال غبرګون او ننګوني:**
په داسي حال کي چي پي تي ایم نړیوال پام یي ځانته رااړولي دی، غورځنګ د رسنیو خاموشي یا بندیزونو په شمول، د خپلسرو نیونو او غیر قانوني توقیفونو له ننګونو سره مخامخ دی. د غورځنګ منظم سوله ییز ډیسپلین با وجوده، دا غورځنګ د نړیوالو رسنیو او سیاسي مشرانو څخه لږ ملاتړ ترلاسه کوي. پي تي ایم د دواړو دولتي او غیر دولتي لوبغاړو لخوا د خورا فشارونو، کریکډونونو او ګواښونو لاندي خپلي سپیڅلي مبارزې ته دوام ورکوي، څکه چي دا غورځنګ د پاکستان د دولت لخوا تمویل شوي ترهګریزه فعالیتونه ننګوي.

**د نړیوال ملاتړ غوښتنه:**
په پاکستان کي د پښتنو د نارضایتي یا شکایتونو د حلولو لپاره د پي تي ایم د مثبت پرمختګ نشتوالی د نړیوالو او سیمه ییزو قدرتونو یا ځواکونو د ناکافي پاملرني له امله دی.
دغه غورځنګ له نړیوالي ټولني په ځانګړي توګه له لویدیځي نړۍ څخه غوښتني لري، چي پر پاکستان باندي فشار راوړي، څو د پښتنو پر وړاندي د جنګي جنایتونو او بشري حقونو سرغړونو ته د پای ټکی کیښودل شي.
پي تي ایم ټینګار کوي، چي په جیوپولیټکلي ګټو باندې د نړۍ تمرکز نباید د عدالت، بشري حقونو او د افراطیت او تروریزم د پای ته رسولو اړتیا له پامه ونه غورځول شي.
د پښتون ژغورني غورځنګ د دولتي جبر پر وړاندې د مقاومت او عزم سېمبول په توګه په میدان کي ولاړ دی.
د عدالت، بشري حقونو او جیوپولیټیکل استحصال یا استعمار د ختمولو لپاره د پي تي ایم غږ له پولو ور ها خوا اوریدل کیږي او له نړیوالي ټولني څخه غوښتني لري، چي د پښتنو مصیبت ته دي پام وکړئ. لکه څنګه چي غورځنګ خپلي سوله ییزې مبارزې ته دوام ورکوي، دا ټېنګار هم کوي، چي د نړۍ غبرګون باید د جیوپولیټکي ګټو پر ځای بشري حقونو ته د ژمنیتا له مخي رهبري شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ